سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۶/۱۱/۲۸

د ډونالډ ټرمپ بریا او د امریکا نړیوال سیاست راتلونکي بهرنۍ تګلاره

آیا سرتمبه ټرمپ کولای شي د ټاکنیزوسیاسي زلزلې ورسته د نړۍ سیاست او د امریکا برخلیک وټاکي؟ .آیا اکثریت امریکایان یو سیاسي انقلاب غواړي ؟ نړۍ ته د شوک ورکولو سره سره امریکا یې ټاکنې څه مانا لري؟ آیا پاچا ټرمپ د امریکې متحده ایالاتو ولسمشر به د یو مستبد دیکتاتور په څیر عمل او حکومت ونه کړي ؟ آیا نا اټکل کیدونکی شخصیت ټرمپ به په خپله دا نړۍ له نورو ناآرامیو، ګډوډیو او ناامنیوسره مخامخ نه کړي ؟
آیا پر ځان مین رواني ناروغ نارسیت شخصیت ټرمپ په خپله د نړیوال امنیت او نړیوال اقتصادي ثبات په وړاندې یو ستر ګواښ نه دی ؟ آیا میلیاردر ټرمپ په ریښتیا سره د چین او مکسیکو په وړاندې د سوداګري نړیواله جګړه پیلوي ؟ د ویرې خپرونکی ټرمپ بریالیتوب سره داسي ډیرې نورې پوښتنې راولاړې شوې دي.
د امریکا د ولسمشرۍ ټاکنو نوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ ټاکنې سره د نړیوال سیاست په اجنډا کې بدلونونه تمه کیدونکي دي. دا بدلونونه په دقیقه توګه په څه ډول وي، تر دې دمه په دې اړه یوازې اټکل کیدای او یا تصور کیدای شي. وسمهال یوازې یوه خبره په ډاډه توګه کیدای شي، هغه دا چې د نړیوالې ټولنې ولسمشران باید په نړیوال سیاست کې د ټرمپ لیونې احتمالي سیاسي بدلونونو ته ځانونه چمتو کړي. جمهوریپال ټرمپ بایدپه دې وپوهیږي، چې نړیوال اقتصاد، نړیوال نظم او نړیوال امنیت په راتلونکي کې د درې نړیوال زبرځواکو هیوادونو د چین ولسي جمهویت، د امریکا متحده ایالات او د روسیې جمهوریت له خوا ټاکل کیږي.
له څه کم یوې لسیزې راهیسې د امریکا متحده ایالاتو وګړي کبر،کرکې،اندیښنې او ویرې تر چاودنې پولې پورې پرسولي دي او هممهاله امریکایان په خپلو کې په سیاسي ډګر کې په دوو قطبونو کې سره ویشلي شوي دي.
همدارنګه نړۍ مخکې له مخکې د جنګ جګړو، یرغلونو، ویرنو او ناورینونو له امله بې نظمه او ګډوده شوې ده. د امریکایي ټولنې ډیرې وګړي د خپل راتلونکي په اړه په خورا ستره کولکتیفي ویره کې ډوب دي. د نړیوال سوداګریزه مارکیټ برخلیک او د اسعامواو اسعارو بیې لویدلې دي،د ډالرو نرخ بې برخلیک مخ پر ځوړوند روان دی. نړۍ خپله ساه اخیستنه بنده کړې ده، ځکه ډیر سخت او نااټکل کیدونکي پیچلي کړکیچن کړکیچونه را روان دي. دا هیواد او دا نړۍ به د خونړیو شخړو او کړکیچونو له نوي پیر سره مخامخ کیږي. ټرمپ تر ولسمشرۍ ټاکنې ګټلو ورځې پورې نه کوم روښانه سیاسي پروګرام درلود او نه سم سیاسي کارپوه پرسونل. ایله اوس یې د خپلې ډلې یا کابینې پر غوراوي پیل کړي دی. د ټرمپ ټاکنیزه کمپاین بهیر د سیاسي بې تجربګۍ، بې نظمۍ، ځانځانیې، ناندرۍ او د مسلمانانو په وړاندې له تعصب ډک خبرې او سپکاوي سره مل وو. دغې نالایقه امریکایي جمهوریپال، توکمپال، سودړه، میلیاردر سوداګر د سپین پوټکو غوسه ناکو او قهرجنو وګړو له رائیو، اندیښنو او ویرې څخه ښه سیاسي ګټه پورته کړه. د بریا سره سم دغو قهرجنو سپین پوټکو سختدریځو امریکایانو بارک اوباما ته د خپل لاس منځنۍ ګوته ورجګه کړه. د ټرمپ د دې بریا سره قهرجنو او نهیلې شویو سپین پوټکو امریکایانو د خپل هیواد واک او اختیار بیا ترلاسه کړو. دا هغه واک دی چې د تور پوټکی بارک اوما او د لاتیني امریکایي لړکیو وګړو په لاس کې لویدلي وو. غوسه ناکو قهرجنو سپین پوټکو نارینه امریکایانو په ډونالډ ټرمپ کې یو کاریسماتیک سختدریځه مشرتوب وموند. ټرمپ ټاکنې له دې امله ونه ګټلې، چې دی یو ځواکمن سیاسي کارپوه سړی دی، بلکې میرمن هیلیري کلنټن یوه کمزوري ،سسته پسته، کمرنګه او بې فصاحته ښځه وه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امریکایان تل ځانونه ځښت ډیر د ناامنیواو ګواښونو د ویري له امله په غوسه کي ښیي. ډیری امریکایان باید په دې پوه شي او اقرار وکړي او دې ټاکنو داجوته کړه، چې امریکایان خپل هیواد نیم نیمګړي او یا په کافي اندازه سم نه پیژني او آن د دوی رون اندې، ممتازه پرګنه، د واک او شتمني خاوندانو هم د خپلو ناراضه سپین پوټکو د غوسې او قهرجنو احساساتو په اړه ډیره لږه پوهه درلودله.

د ټرمپ بریا ډیرو امریکایانو ته د ځمکې پرمخ یو قیامت جوړ کړي وو، ډیرو نور و لپاره دا بري د اوږدې مودې راهیسې د هیواد د سیاست او سیاسي چارو چلونکي مسلکي اداره چیانو او د واکمنانو په وړاندې یو غوڅ غچ اخیستونکي عمل وو. په بله وینا سپین پوټکو د امریکا د Establishment په وړاندې خپل نفرت څرګند کړو.

په امریکا کې ډیرې امریکایان داسي یو احساس او نظر لري، چې دا امریکایي سیستم نور د ولس په چوپړ کې نه دی، بلکې د یوې ځانګړې ډلې په خدمت کې دی. دغه ډله یوازې د امریکي اقتصادي، سیاسي واک او اختیار په خپل لاس کې لري.

هیڅ ځوک نه پوهیږي،چې ټرمپ د واک تر لاسه کولو ورسته په نړیوال سیاست کې څه ډول پالیسي غوره کوي او څه ډول غبرګون ښیي، خو د هغه بریا امریکا په یوه کمساري تاریخي ژور کړکیچ کې ډوبه کړی ده. کله چې سړی ټرمپ ګوري، سړی ته یو سرتمبه رواني ناروغ کوبای د یکتاتور ور په زړه کیږي.

د ټرمپ له بریا سره امریکایانو د سیاسي انقلاب یوه تجربه وځکله. د دې ټاکنو د بریا سره د امریکي په متحده ایالاتو کې ډیره کې سپین پوټکو امریکایانو خپل هویت تضمین او ثابت کړو. په دې تاریخي ټاکنو کې خبره یوازې د حکومت له بدلیدو څخه ډیره ستره ده. د ټرمپ انقلاب لومړی د خپلو نیولیبرال محافظه کار جمهوریپال ګوند د غړو په وړاندې پیل شوي دی. دغه محافظه کاران په آزاد سوداګریز بازار باندي باور لري.

ټرمپ د نړیوال آزاد سوداګریز بازار یو سوګند خوړلي مخالف سړی دی. همدارنګه په ناټو کې د متحده ایالاتو رول او وندې یې تر پوښتنو لاندې راوستي ده .همدا لاملونه کیدای شي، چې ترمپ نړیوالي اړیکي تر خورا سختو ازمایښتونو لاندې راولي. ټرمپ په نړیوال سیاست کې بې تجربه او بې تصمیمه سړی دی. دا حالت په نړیوال سوداګري او د امریکي په اقتصادي وده کې د ده عدم قاطعیت ثابتوي او ورسره د نړیوال امنیت په مسئله کې د امریکا او روسي اړیکو کې همدا حالت لیدل کیږي. دا به د ټرمپ یوه ستر ه تیروتنه وي، چې ده د ټاکنیزکمپاین پرمهال د نړیوال سوداګریز بازار اړوند څه ویلي دي، دی هغه تر سره او عملي کړي. ټرمپ د خپل ټاکنیز کمپاین پرمهال تل د ناټو غړو هیوادونو تږون مرسته او همکاري باندې خپل شک څرګندکړي دی. د دې څرګندونو پر بنسټ د شمالي اتلانټیک تړون څخه یو مهم مرکز هیواد د امریکي متحده ایالات د وتلو سره به د ناټو غړي هیوادونو نړیوال یووالی په لنډمهال او یا اوږدمهال کې خپل ارزښت له لاسه ورکړي. په عمومي توګه د امریکا متحده ایالات د ناټو غړو هیوادنو سره خپله نړیواله بهرنۍ تګلاره او سیاست شریکوي. کیدای شي ټرمپ د دې سربیره په خپلسر نړیوال سیاست د ناټو غړو هیوادنو سره پرته له مشورې وټاکي.

اټکل یو کال وړاندې د سویدن د بهرنیو چارو وزیر په خپله ټویټر پاڼه کې لیکلي وو،کله چې ټرمپ د امریکې ولسمشر شي، موږ باید خپل ځانونه د ځمکې لاندې په سمڅو او خوندې مورچلونو کې وژغورو،که څه هم دا خبره ډیره له مبالغې ډکه ښکاري، خو د وسمهال سره لږ څه سمون خوري. کله چې موږ د ټرمپ کاریکاتوري انځورونو ته لږتم شو، بیا خامخا سړی ته داسي خیال پیداکیږي، چې د نړۍ حال به له دې ورسته ډیر خراب شي. ټرمپ تل په خپل ټاکنیز کمپاین کې ویلي، چې ده ته تر هر څه لومړی او آن په بهرني سیاست کې امریکا ورته لومړیتوب لري. د امریکا لومړیتوب دا مانا لري،چې د نړۍ بیوځلو هیوادونو امنیتي او اقتصادي حالت دې ،نوره بې ثباته او بد برخلیک سره مخامخ شي، خو امریکایان بایدتر ټولوښه هوسا ژوند ولري. ټرمپ تر اوسه د امریکي بهرني سیاست په اړه کوم مشخص لیدلور نه دی وړاندې کړي. دی چې څه ویل غواړی سړی سم پرې نه پوهیږي، څه شي چې ده تر اوسه ویلي دي، له دې څخه ګرده نړۍ اندیښنه او ویره لري. ټرمپ د خپل بهرني سیاست له یوه مشاور سره د امریکي په یوه تلویزیوني کانال کې د مرکې پر مهال داسي ویلي دي، کله چې موږ اتومي وسلې لرو، بیا نو ولې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مورِ هغه ونه کارو ؟ په ستدیو کي راغلي خلک ټول هک پک او حیران پاتي شول او یوه شیبه په ټول سالون کي چوپه چوپتیا خپره شوه. د دې خبرو په غبرګون کي د سي آي اي پخواني مشر مائیکل هیي دن وویل، دا ډول خبري په ملګرو کي ویره خپروي او دښمن ننګونو ته هڅوي. د امریکي د اټومي وسلو کودړ د یو داسي بې باکه سړی په لاس کي دی،چې هغه ډیر ژر په قهر او غوسه کیږي. په دې لنډه موده کي ټرمپ دا ډول خبرې په ځانګړي ډول د اټومي وسلو په اړه ډیرې خوشینونکي،اندیښمنونکي او نا آرامه کونکي ویناوې کړي دي .
د ټرمپ په اړه یوه خبره سمه ده، هغه داچې د جګړې او سولې په اړه پریکړې به د هېلیري کلنټن په پر تله ډیر ژر تر سره کړي. د افغانستان په جګړه کي، د سوري په جګړه کي، د منځني ختیر په کړکیچ کي، د ایران او پاکستان اټومي وسلي او د اوکراین په کړکیچ کي ګڼ شمیر اکټوران شامل دي. د شاملو ډلو او اړخونو سره باید په ډیره سیاسي ځیرکتیا او هوښیارتیا کي خبرې اترې وشي. ټرمپ په خپلو ټاکنیز کمپاینونو کي تل ویلي، چې ده ته د نړۍ ولسواکه ټومنلي ارزښتونه، ډیپلوماسي او نړیوال ټرونونه هیڅ مانا، ارزښت او اهمیت نه لري. ټرمپ وایي، د ایران سره اټومي ټرون بیا له سره ارزول کیږي. د ایران د اټومي وسلو ټرون سره عربي نړۍ او هم افغانان ډیر سخت مخالفت لري.
د امریکي جمهوریپال ګوند سیاست د نویویمو کلونو راهیسي روغه جوړه او پخلاینه د دیپلوماتیک هنر په ځیر نه، بلکي سیاست د یوې وسلې په توګه پیژني. پر ۲۰۱۷ کال کي د جنوري په شلمه نیټه ټرمپ په سپینې مانۍ کي د دموکرات بارک اوباما ځایناستي شي. د ټرمپ جمهوریپال یا زړوپال ګوند په مشرانو جرګه، ولسي جرګه او ستره محکمه کي اکثریت په خپل لاس کي لري. په بله وینا د دولت دري ګوني ځواک مقننه، قضائیه او اجرائیه د امریکایي بنسټپالو په واک او اختیار کي دي .ټرمپ به د نړۍ د یو پیاوړی او قدرتمن سړي په توګه په. آزاده نړۍ کي پر نړیوال سیاست خپل ستر غبزمن اغبز و شیندي. ټرمپ د یو سوداګر په توګه تر اوسه د دولت دریګوني ځواک په دندو باندې هم سم نه پوهیږي. د دې ډیر احتمال شته چې ټرمپ د امریکا او نړۍ لپاره یو ډیر ګوابښمن سړی پریوځي. تر اوسه د ټرمپ سیاسي لید لوري سم جوت نه دی. دغي اویا کلن سړی د خپل ټاکنیزه کمپاین د بهیر پر مهال د خپلو پلانونو څخه لږ څه خبر کړي یو،څرنګه چې ټرمپ په ټاکنو کي ویلي دي او که دی همدغه ډول چلند او حکومت وکړي، په نړۍ کي به ستر ستر درزونه او اورونه بل شي. د ټرمپ تر بریا ورسته په ګرده نړۍ کي په تیر بیا اروپا او امریکا کي ښې اړخې سختدریځه توکمپاله ګوندونه،چې دوی په اصل کي د کډوالو، مسلمانانو او اسلام ضد ډلې ټپلې دي چې په فرانسه، جرمني، اتریش، دنمارک، هالنډ، پولنډ، هنګري، روسیه او نورو هیوادو کي د خوشالیو نڅاګاني کوي.
ټرمپ د خپل ټاکنیزې مبارزې پرمهال دا هم ویلي دي، چې امریکي ته د ترهګرو هیوادونو څخه د مسلمانانو پر ورننوتلو باندې بندیځ لګوي او یا امریکي ته د مسلمانانو وروتګ اجازه ورنه کړي، څو له دې لارې د امریکي په خاوره کي د ترهګریزو بریدنو مخه ونیول شي. ټرمپ د امریکي اقتصادي وضعیت د سقوط سره مخامخ ویني. دی په نړیوال سوداګریز بازار کي د چین هیواد یو ستر سیال ګڼي او ټرمپ په نړیوال سوداګرې بازار کي د چین اقتصادي بریالیتوب کي د امریکي د اقتصادي سقوط اصلي لامل ویني.
ټرمپ خپل هیواد د چین ولسي جمهوریت د اقتصادي ځواک د ودې له امله تر ستر ګوابښ لاندې ویني. هغه تل په چین تور لګولي او پر چینایانو له ملنډو ډکي ادعاوې لري، دی وایي دغه هیوا د په نړیوال بازار کي د خپلې کرانسۍ بیه راټیټوي او چین پر نړیوال کچ له دې لارې د خپلو صادراتو څخه ګټه پورته کوي .له دې امله ټرمپ پر چینایي مالونو جګه جزایي ګمرکي مالیه لګول غواړي.که ټرمپ پر چینایي توکو باندې ۴۵ سلنه جزایي مالیه وضع کړي،بیا نو سمدستي په نړۍ کي سوداګریزه جګړه پیل کیږي .دا جګړه به په لومړۍ ګام کي پر دواړو خواوو ناوړه او منفي اغیز ولري. پر ۲۰۱۶ کال د مې میاشت کي جمهوریپال ټرمپ داسي هم ویلي وو . مورِ باید نوره اجازه ورنه کړو، چې چین زمورِ پر هیواد باندې (اقتصادي) جنسي تیري وکړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوښتنه دا هم راولاړيږي، آيا د امريکي مشرانو جرګه به په دې وتوانيږي،چې ټرمپ پام د تخطي او يا د سرې کړښې څخه د اوښتو په صورت کې خپلو مسوولیتونو ته ور وګرځوي .
د امريکي دولتي سيستم پر بنسټ ولسمشر د ولسي جرګې او د مشرانو جرګې کانګرېس له همکاريو پرته حکومتي چارې يا حکومتولۍ نشي پرمخ بيولالي، کله چې ولسمشر د سيناټ او کانګريس خبره ونه مني او يا همغږي ورسره نشي ولسمشر سمدستي په خپل کاري چپريال کې بلاک کيږي يا د تصويبدو قانوني لارې پرې بنديږي.ټرمپ له پيله په خپل ګوند کې د لسګونو جګپوړو جمهوريپال مشرانو د مخالفت سره هم مخامخ دی.
ولسمشر ولسي جرګې او مشرانو جرګې يا کانګرېس ته اړ دی، نه دا چې مشرانو جرګه ولسمشر ته اړه ده.
ولسمشر نشي کولالي پرته له کانګريس د حکومت چارې پرمخ بوځي. ټرمپ په ډير ژر په دې وپوهيږي، چې دی د مشرانو جرګې سره په مخالفت کې حکومتوالۍ نشي کولاي. همداراز دي نشي کولاي پوځي يرغل په خپلسر پرته د کانګرېس له تصويبه پيل کړي. د امريکي د اساسي قانون پربنسټ ولسمشر کولای شي د کانګرېس د تصويب پرته ځينې پريکړې هم پلي کړي، لکه امريکې ته سوريايي کډوالو د پلان شوي راتګ مخه نيول، د چين او مکسيکو څخه پر د وارداتي مالونو باندې جزايي ماليه لګول، د وسلو ګرځولو نوي قانون بلي کول او د نړيوالو سوداګريز ټرونونو لغوه کول او داسي نور موارد شته چې ولسمشر پرته له مشرانو جرګې يا کانګرېسه عمل کولي شي. ټرمپ ويلي، چې سپينې ماڼۍ ته د ورتګ ورسته د سلو ورځو په د ننه کې يو دقيق پلان به د مکسيکو د ډيوال جوړول په اړه وړاندې کړي او امريکا ته د ځينو ځانګړو هيوادنو وګړو ورتګ منع کړي او د روغتيا يې بيمې نوي ريفورم به هم وړاندې کړي. ټرمپ د خپلو لومړيو سلو ورځو پلان په ډاګه کولو کې د مکسيکو سره ديوال جوړولو. د اقليم ساتنې په اړه د پاريس ټرون لغوه کولو په اړوند هيڅ هم ونه ويل.
د دلسمشر يزو ټاکنو ورسته د امريکې په يو شمير ايالاتونو کې د ټرمپ پر ضد او مخالفت کې لاريونونه روان دي، لاريون کوونکو شعارونه ورکول، ,, ټرمپه، زما ولسمشر نه يې,,.
د افغانانو هيلې او انديښنې
افغانان به د ټرمپ په اړه هغه مهال قضاوت وکړي، چې دی په څه ډول په افغانستان کې د امريکا ناسم پوځي شتون او دا نا متوازنه جګړه پايته رسول غواړي او افغانستان ته د تلپاتي سولې او ثبات په راوستو کې په څه ډول مرسته کوي او د افغانستان د پرمختګ په اړه خپله پاليسي او ليوالتيا په څه ډول ښيي. همداراز ټرمپ خپل بهرنۍ سياست د پاکستان د اټومي وسلو او په افغانستان کې د پاکستان د لاس وهنو اړوند په څه ډول اعلانوي. آيا امريکا په ريښتني ټوګه په افغانستان کې د پاکستان او ايران د لاس وهنو مخه نيسي او د ايران سره د اټومي ټرون د ارزولو ورسته د ټرون لغوه کول اعلانوي. لنډه دا چې د افغانستان په ګاونډ کې بايد اټومي وسلې لمنځه يووړل شي. د ګاونډيانو دا اټومي وسلې په راتلونکي کې افغانستان ته يو ستر ګواښ ګرځيدلی شي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ